وهمچنان شمارااامت وسطي ساختيم
تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشماگواه باشد

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

فرمان الهي

يقيناً که نيکوکاران در بهشت اند وبدکاران در دوزخ . در مي آيند در آن خانه ها در روز جزاء ، در حاليکه از آن خانه ها ، کناره گيري نتوانند.
(سوره انفطار-آيات ١٣-١٦)

افراد نظامي رژيم کابل در ولسوالي واخان با امکانات دست داشته شان به مجاهدين تسليم شدند

بدخشان ١٤ر٥ر. ١٣٧ :
خبرگزاري افغان نيوزايجنسي (اانا) به نقل قول ازيك منبع جهادي ازولايت بدخشان خبرميدهدكه : افراد نظامي رژيم كابل درولسوالي واخان ولايت بدخشان ساعت ٩ صبح روز ٩ اسد بصورت مكمل به مجاهدين تسليم شدند ووفاداري شانرا به مجاهدين ابراز نمودند .

خبرمي افزايد : شهرك خندودمركز ولسوالي واخان كه درنقاط مرتفع پامير موقعيت دارد ازآغاز كودتاي ننگين ثور تاكنون تحت تصرف افراد رژيم قرارداشت كه مستقيماً توسط قواي روس حمايه ميگرديد .
درخبرگفته شده كه:روسها در دوران تجاوز، قواي مجهز را دراين ساحه باراكت هاي دوربردخود جهت تهديد وپيشبرد اهداف استراتيژيك شان درنقاط مهم پامير جابجا كرده بودند .
درخبرآمده است كه:بافتح ولسوالي واخان راه نفوذ مجاهدين بردشت هاي مرتفع پامير چون بوزي گنبد ومناره درمرز چين وروسيه بازگرديده ومجاهدين ازطريق بروغيل گلگت ومتوج درمرزپاكستان نيز رفت وآمد كرده ميتوانند .

شماره مسلسل (٣٥٩) سال چهاردهم ،شماره (٥٥) سه شنبه (١٥) اسد ١٣٧٠ هـ .ش- (٢٦)محرم الحرام ١٤١٢ هـ.ق- (٦)آگست ١٩٩١م

ورور حکمتيار د انتخاباتو داوومي دوري د افتتاح په مراسموکي :

ورونو ! کوښښ وکړي چې صالحو ، امانتگرو ، پرهيزگارو ، اسلام اوحزب ته متعهد وشخصيتونو ته رايه ورکړی

- دتخطيط او تنظيم رياست له اټکل سره سم نژدې يوملیون کسان په دې انتخاباتوکي برخه اخلي

٣مخ

- دټولو تنظيمونو په گډون د پاکستان اوايران حکومتونو دا خبره منلي چي دافغانستان راتلونکي حکومت بايد انتخابي او اسلامي وي

بنام خدائيکه بی اندازه مهربان نهايت بارحم است

سر مقاله

ديالوگ دراماتيك سران ابرقدرتها درماسکو

هفته گذشته جهان شاهد مذاكرات دوستانه سران دوقطب جهاني درماسكو بودند ، اين ملاقات درست درزماني صورت گرفت كه جهان آبستن تحولات وكشمكش هاي عظيم وگسترده اي است و هردو زمامدار نيازداشتند كه براي اتخاذ مواقف همگون درقبال قضاياي جهاني باهم تفاهم نمايند .

گرچه سردي روابط فيمابين امريكا وروسيه بعداز رويكارآمدن گربه چوف درصحنه سياسي روسيه واعلان سياست هاي " بازسازي " و "دروازه هاي باز" به گرمي گرائيده بود، مگراقدامات جسورانه گربه چوف درهفته هاي اخير، ديگر آن شكوك وشبهات احتمالي اينكه گهگاهي سياستمداران غرب را به ناباوري تشويق ميكرد، كاملا مرفوع ساخت وفعلا زعامت روسيه خودبه برتري امريكا وضعف ونابكاري كمونيزم اذعان مينمايد .

كريملين بنابرمشكلات عديده اقتصادي وفشارروزافزون حركت هاي آزاديخواهانه رياست هاي محكوم روسيه ، از مقام رقابت باحريف سابقه كاملا عقب نشيني نموده ودرجميع سياست هاي خارجي و موضعگيري هاي سنتي نسبت به قضاياي جهان دربرابرامريكا انعطاف پذيري اختيارنموده است . شركت گربه چوف دراجلاس كشورهاي صنعتي گروپ هفت گوياي اين امرست كه بار مشكلات اقتصادي كمرمقامات روسي را بحدي خم نموده كه دربرابر رقباي غربي اش بجاي مقابله دست نيازوتضرع را دراز نموده وازادامه مسابقه خصمانه سابقه منصرف گرديده است .

دركنفرانس ماسكو اختلاف نظرامريكا وروسيه درقبال بحران شرق ميانه كاملا حل گرديد و هردو قلدر جهاني موافقه كردند كه معضله اعراب واسرائيل ازراه مذاكره ميان طرف هاي ذيدخل تحت مراقبت هردوابرقدرت حل گردد . گرچه قبل ازين نيز روسها برسياست عنعنوي حمايت از اعراب خويش تجديدنظرنموده بافروش طيارات جنگي ميگ ٣١ به اسرائيل وراندن جبري يهوديان ازخاك روسيه وسوق ايشان درسرزمين هاي اشغالي فلسطين ، باداعيه اعراب وداع گفته بودند ، مگر توافق اخير سران هردو ابرقدرت يكباره‌ديگر به زمامداران ساده لوح عرب اين حقيقت راصراحت بخشيد كه كفرملت واحد است وكناردرمراحل حساس وفيصله كن با اتخاذ مواضع هماهنگ عليه مسلمانان عمل ميكنند .

بعدازآنكه امريكا درپايان بحران خليج به عنوان قهرمان جنگ قلمداد شد، قصرسفيد درصدد آن گرديد تا بااستفاده ازكيف قهرماني وسكوت مرگبار روسيه ، تنهابه اين اكتفا نكند كه جهان بگويدكه امريكا، عراق راشكست داد ، بلكه درتلاش آن گرديد كه بااستفاده ازفرصت، تمام خواست هاي استكباري خودرا تحت شعاع نظام نوين جهاني درجهان پياده كند. فيصله بوش مبني بر خلع سلاح كشورهاي مسلمان شرق ميانه به استثناي اسرائيل ، هدفي بودكه امريكا سالها روي آن فرصت جوئي وسرمايه گذاري ميكرد تاآنكه خاطرخودرا ازناحيه گسترش تحريك اسلامي وقوت فزاينده

ص ٤

په هلمند کي دملحد رژيم ٥ نظامي لاري وسوځول شوی

هلمند - دزمري ٤ مه :
دهلمند ولايت كفرځپونكو غازيانو دميډيا په حواله خبراكړي چي دنوموړي ولايت پاسدارانو خپل تعرضي بريدونه پيل كړي او په دښمنوقواوو كي يې دمرگ ويره راوستي ده .
خبرځاي ليكي : مجاهدينو ديوه تعرضي بريد په ترڅ كي چي دگرشك ولسوالي په نژدې كي تې ددښمنوقواوُ په يوه تم ځاي ترسركر دكابل رژيم ٥ عرادې نظامي لاري ويجاړي اوورسره پراته ملشيان ووژل شول .
خبرياتوي : پدې بريد كي له مومنوغازيانو څخه دوه كسه ټپيان اودوه كسه نورهم دشهادت لورمقام ته ورسيدل . روح يې دې ښادوي

٨٠٠ تن از مشاورين روس به عناوين مختلف وارد ولايت جوزجان شدند

جوزجان ١٤ر٥ر. ١٣٧ :
خبرگزاري ميديا به نقل قول ازيك منبع جهادي گزارش ميدهد كه اخيرابه تعداد ٨٠٠ تن ازمشاورين روسي تحت نام متخصص، انجنير وامثالهم كه درواقع همه نظاميان روسي هستند ، وارد ولايت جوزجان درشمال افغانستان شده اند .
خبرمي افزايد : مشاورين مذكور درپايگاه نظامي رژيم درآنولايت مستقرشده ودرامورات نظامي باافراد رژيم همكاري مينمايند .
لازم به تذكراست كه:قبلاً نيز راپورهاي مشابهي مبني برمواصلت عده ازمشاورين روسي به افغانستان بدست رسيده بودكه هم اكنون دربخش هاي مختلف نظامي كارهاي عمده ازجمله فيرراكت هاي سكد، لوناواوراگان رابعهده دارند .

مجاهدين ولايت لغمان و ننگرهار طي عمليات مشترك ١٤ عراده تانك زرهي دشمن را به غنيمت گرفتند

افغان نيوزايجنسي : ١٠-٥-١٩٩١
قرارراپورهاي واصله مجاهدين درولايت لغمان وننگرهار عمليات هاي جهادي شان را بااستقامت هاي درونته ، سرخكان ، مسدي تانه وولسوالي سروبي ولايت كابل درحاليكه بمباردمان هاي شديدي رژيم كابل ادامه دارد موفقانه به سرمي برند . يك منبع جهادي خبرمي دهد : كه بروز ١٢ برج اسد سال ١٣٧٠ جنگ هاي شديد ورويارويي مجاهدين ورژيم كابل واقع در مناطق سرخكان ، ومسدي تانه رخ دادكه درنتيجه آن به تعداد ١٢ عراده تانك زرهي ودوعراده تانك ثقيل دشمن ازپوسته هاي متذكره طورغنيمت به دست مجاهدين قرارگرفت . تعدادي ازعساكروصاحب منصبان نيز به هلاكت رسيده اند .
خبرمي افزايد:كه به همين تاريخ قرارگاه عسكري ملاعمر راواقع درسروبي توسط مجاهدين فتح وچهارده عراده تانك وزرهي پوش به شمول يك مقداركافي مهمات به غنيمت مجاهدين درآمده است.
همچنان ساعت ١٢ بجه ظهرتاريخ ١٢ برج اسدمجاهدين باانداخت هاي سلاح هاي ثقيل دودپوي نظامي ومهمات دشمن را واقع دردرونته منفجرنموده كه ازتلفات وخسارات آن طوردقيق معلومات نيست .
يك منبع جهادي خبرمي دهد كه : بتاريخ ١١ برج اسد به تعداد ١١٦ نفر عساكربه شمول ٢٦ صاحب منصبان رژيم مزدور باسلاح ها ومهمات دست داشته شان واقع درمنطقه خيروخيل، ميمله بين تانه زاره قلعه وشترخانه به مجاهدين تسليم شدند .
گفته شده است كه:عمليات هاي مجاهدين بالاي مناطق نظامي درشهر جلال آباد ومناطق ديگربه شدت‌جريان دارد .

وزراي خارجه کشور هاي عضوکنفرانس اسلامي تشکيل جلسه دادند

استانبول ١٣ اسد :
وزراي امورخارجه كشورهاي عضوسازمان كنفرانس اسلامي دراستانبول تشكيل جلسه دادند ، انتظارميرود درباره آنچه كه درصلح خاورميانه ورويداد هاي پس ازجنگ خليج فارس ونيزمسايل اقتصادي وفرهنگي متمركز خواهد بود به تبادل نظربپردازند . همچنان درنظراست درين كنفرانس راه هاي حل مسايل افغانستان ، كشمير وفلسطين نيزمورد بحث قرارگيرد .
ترگت اوزال رئيس جمهور تركيه درنطق افتتاحيه خودگفت : از تكرارحوادث نظيرحمله عراق به كويت جلوگيري كنند وي گفت:اين حمله ناراحتي هاي فراواني براي جهان اسلام به بارآورد موصوف درخطاب به وزراي امورخارجه ٤٨ كشورمسلمان گفت كه : بايد براي پرهيزازتفرقه هاي بيشتركوشش كنند .
ازهنگام پايان گرفتن جنگ خليج نخستين باريست كه كنفرانس اسلامي تشكيل جلسه ميدهد .

ديونان او ترکيي صدر اعظمان دقبرص دستونزي په سر په امريکا کي غونډه کوي

قبرس - دزمري ١٣ :
دقبرس ديوناني نژاده اوتركي نژاده خلكومشرانودجمهوررئيس بوش دااعلان چي يونان اوتركيي موافقه كړيده چي دمديترانې ددغه ټاپودجنجال په باب مذاكرې وكړي . هركلي كړي دي .
دشمالي قبرس ديپلوشوو تركانودجمهوريت رئيس رؤف دنكتاش وايي هغه په دې خوشحاله دي چي دغو هيوادونو خپلوكي خبروكولوته غاړه كيښوده له بلي خوادیونان دبهرنيوچارو وزيرويلي دي چي دقبرس دمسئلي په هكله تازه انكشافات جدي غورغواړي .
بوش دجمعې په ورځ وويل،ديونان اوتركيې صدراعظمانو په موقتي ډول موافقه كړيده چي دملگروملتوترسرپرستۍ لاندې كنفرانس كي په گډون وكړي ، دغه كنفرانس بله مياشت په امريكا كي جوړيږي .

دلوگر ولايت مجاهدينو دکابل گرديزلويه لاره وتړله

لوگر - دزمري ١٢ مه :
دلوگر ولايت بهادرو غازيانو دنوموړي ولايت په پيلابيلو سيمو كي پراخه بريدونه پيل كړي اويه كمونست رژيم ئي مرگوني گوزارونه كړي دي . په هغه رپوټ كي چي دنوموړي ولايت څخه ترلاسه شوي ويل كيږي : دروان كال دزمري دمياشتې له اولې نيټې څخه سربيره پردې چي مجاهدينو لوى لوى فتوحات گټلي خوددې سره جوخت ئي دكابل گرديز لويه لاره هم تړلې ده .
كمونستي قواوې چي دمجاهدينو دمخامخ نښتوتوان ئي له لاسه وركړي نودهوائي قواوو دسختو بمبارۍ څخه يې په كاراخستوسره گڼ شمير كلي اوهستوگن ځايونه ويجاړكړي اوله ٧ څخه زيات درمندونه يې سوځولي دي .
خبرځاي ليكي ، دلوگرولايت گڼ شمير كليوال خلك هجرت ته مجبورشوي اويه هره سيمه كي دمهاجرينو بهيرروان دي .
په خبركي دمجاهدينو اوكليوالو خلكو دمرگ ژوبلې په باب څه ندي ويل شوي .

موږ په افغانستان کي ديوي شيبې لپاره هم غير اسلامي حکومت نه منو

داستانبول غونډه پیل شوه

تنګیار

داسلامي هیوادونو دبهرنیوچارو دوزیرانوشلمه غونډه دیکشنبي په ورځ ، چي دزمري دمیاشتي له دیارلسمي نیټي سره سمون خوري دترکیې دهیواد "استانبول" په ښارکي جوړه شوه .

پدغه پنځه ورځني غونډه کي د (٤٣) اسلامي هیوادونو، رسمي استاذیوبرخه اخیستي ، چي له هغې جملي نه دافغاني هیئت مشري استادبرهان الدین "رباني" په غاړه لري . پاتي دي نه وي چي په اسلامي کنفرانس کي دافغانستان څوکي ، پرافغانستان دروسانودناروایرغل نه وروسته خالي پاتي وه ، چي ورسـ کال دمجاهد ورورحکمتیار دمدبرانه سیاسي هلو، ځلوپه نتیجه کي دمجاهدینو موقت حکومت ته وسپارل شوه .

ویل کیږي چي پدغه غونډه کي به داسلامي نړي پرسیاسي ، ټولنیزو، اقتصادي اوفرهنګي مسایلو برسیره دافغانستان ، منځني ختیځ ، دعراق راتلونکي، کشمیر اودروس ترسلطي لاندي داسلامي جمهوریتونو پرمسایلو هم بحث اوخبري وشي .

غونډه دترکیې دجمهوررئیس "ترګت اوزال" په وینا پیل شوه . "اوزال" په اسلامي هیوادونو غږوکړ، چي اسلامي هیوادونه دي یوداسي قوت رامنځ ته کړي چي وکولای شي په راتلونکي کي پرکویټ دعراق یرغل ته د ورته یرغلونومخنیوي وکړای شي . "اوزال" په عراق دامریکا اوغربي استکبارناروااو وړانوونکي یرغلونه ، اسلامي هیوادونوته خطر ونه ګاڼه ، اوسترګي یې تري پټي کړي .

داددغي غونډي دپیل خبره وه ، چي باید اسلامي هیوادونه ددغسي خپلمنځي احتمالي جګړواوتیریولپاره یوقوت ولري، نه دبهرونې یرغلونو لپاره .

نن، سباخو اسلامي نړۍ ته خطرټول له بهرنه متوجه دي. امریکا ده چي مسلمانان اواسلامي هیوادونه ، تهدیدوي اودسیسي ورته جوړوي . په هیڅ صورت کي مسلمانانوته له خپله منځه خطرنشته ، هیڅ یواسلامي هیواددااقصدنلري چي پربل اسلامي هیواد دي یرغل وکړي .

"اوزال" بایداسلامي هیوادونه له امریکا او روس نه ویرولي وای، له چین اوانګلیس نه یې ویرولي وای اودي ته یې رابللي وای چي دکفارویه مقابل کي یوګډ پوځي، سیاسي ، اقتصادي اوفرهنګي قوت جوړکړي .

څکه همدااوس، اوس اسرائیل ، هند، روسیه ، یونان او امریکا، پرفلسطینیانو، کشمیریانو، افغانانو، قبرسیانواوعراقیانو مسلط دي . دهغوي رواحقوق یې له پښولاندي کړي، دهغوي آزادي اوخپلواکي یې سلب کړي. اسلامي هیوادونه باید دکفرپه مقابل کي یوموټي شي، نه چي په خپل منځ کي یوتربله لاس اوګریوان وي، یاداچي دغه حکومتونه دروس او امریکا په اشاره بې ګناه مسلمانان ، شهیدانوي، جیلونوته یې اچوي اوډول ، ډول غیرانساني شکنجي ورکوي .

ښکاره ده چي سږني غونډه هم لکه دتیروغونډو په شان ، تش دخو عملي قطعنامویه تصویبولوپای ته رسیږي. اسلامي امت تري، نه څه هیله لري اونه امید، څکه دکومو حکومتونو استاذیوچي په هغه کي برخه اخیستي ، اکثریت یې پراستکباریوري پیلي حکومتونه دي چي نه ځانګړي تصمیم لري اونه اراده . تل داهغه کوي ترڅوهرکارپني دبادارپه ګټه وي .

له هغوحکومتونه چي همدااوس دخپل هیوادمسلمان ځوانان تش پدي ګناه چي "اسلامي حکومت" غواړي په بیرحمي سره وژني اوشکنجه‌کوي . څنګه دا‌تمه کیدای شي چي هغه به داسلام دسرلوړي اوترقي لپاره قدم پورته کړي .

داسلامي څواکونودتیکوني لپاره دنړیوال استکبار نوي نخچه

فدا محمد فایض

پاکستان ترعراق وروسته دجګیلاګ دشتي لومړي نښه - کوچني ښکیلاکي څواکونه دخپلو ښکیلاکي اهدافو لپاره ډیري اوږدې تخچي لري . داسي چي پیړۍ دوه یاتردې زیاته موده وروسته هم تري دڅان په باب دګټي امید کولای شي . کله چي انګریزانو دخپلو ټولو شیطاني ،چلو ټو اودسیسو اوزور په کارولو سره هم ونشو کړای چي دافغانستان باتور اومومن ولس ښکیل کړي اولاچي دافغانانو دآزادي غوښتني جذبودهند د نیمي وچي ولسونه هم له انګریزي ولکي نه دخپلي آزادي ګټلو لپاره اوچت کړل نوانګریزان دي ته اړشول چي داسیمه توږګړدي.

که څه هم چي دهندوستان په آزادي کي خوهندوانو هم دګاندي په مشري د پیرنګیانوپرخلاف مبارزه کړي ،خودا مبارزه لکه څنګه چي ښکاره ده منفي اودعدم تشدد پرښنسټ ولاړه .هغه څوك چي پیرنګیانو تري ویره کوله اوهغه یې خپل اصلي دښمنان ګڼل مسلمانان ؤ ،همدا لامل ؤچي پیرنګیانو به له پیل نه دمسلمانانو سره ډیر بدسلوك کاوه لکه چي دپیلو - دپلیو هنتر دکلکتې په یوه دري اخبار " دوربین " یاندي حواله ورکوي اودمسلمانانووضعه داسي ترسیموي : "دمسلمانانو زبون حالت دي حد ته رسیدلي ؤچي که مسلمان به ډېره رسمي کار اهلیت هم درلود نو عمدا به دهغه پرخلاف حکم صادریده اوناا‌هله به ګڼل کیده ،چا به دهغوي خبري ته غوږ نه کیښود - اوانچي لوړرتبه ماموریتو او واکمنانو به دهغوي موجودیت هم نه مانه ".

لاردائین بارو په ۱۸٤۲ کال دیوګ اف ولنګټن ته په یوه لیك کي لیکي چي مسلمانان په بنسټیزه توګه د پیرنګیانو دښمنان دي او له حکومت سره دهغوي میرڅي ثبوت ته رسیدلي ده .

لکه چي مخکي مووویل انګریزانو یوازي مسلمانان خپل سرسخته دښمنان کړل او له مسلمانانو سره یې ددښمني اوکینې اوږده سیتوکي لوخړي کولي نوکله چي پیرنګیان دهندوستاني ولس اوپه ځانګړي توګه دمسلمانانو دمبارزو او

قربانیو په نتیجه کي دي ته اړشول چي هندپرېږدي اوپه ۱۹٤۷ کال یې دهندوستان آزادي په رسمیت وپیژندله . دهند ددي آزادي سره جوخت مسلمانانو ځانته دپاکستان په نامه بیل هیواد جوړکړ او داسلام دشاعر حضرت علامه اقبال (رح) تصور ته یې عملي جامه ورواغوسته . داتکي باید هیرنکړو چي پیرنګیانودهنددآزادي اوبیادهند اوپاکستان په نامه ددي لوی هیواد دویش پروخت هم له مسلمانانو سره خپله میرڅي وباله اودپاکستان دمسلمان ملت په بدن کي یې یو داسي ټپ پرېښود چي همیشه به تري په عذاب وي . داټپ دکشمیرلانجه منه مسأله ده .دهمدي کشمیر پرسرهنداوپاکستان دري څله سره خونړي نښتي کړي او د ۱۹۷۱ جګړه خوبي لادپاکستان پرویش هم تمامه شوه او ختیزپاکستان د لویدیز پاکستان نه بیل او دبنګله دیش په نامه جلاهیواد شو که دهند او پاکستان ځمکني ویش ته هم ګړ ځیرشو نودپیرنګیانودښمني پکي له ورایه ښکاریده څکه دختیز اولویدیز پاکستان ترمنځ د... ۲کیلومتروڅخه زیاته فاصله ده طبیعي ده چي له پیل نه پیرنګیانوددي هیواد نخچه داسي جوړه کړي وه چي په ډېره آساني سره وویشل شي لکه چي همداسي وهم شول .

پیرنګیانو نه یوازي داچي پخپله یې له مسلمانانو سره کینه درلوده بلکي په هندوانوکي یې هم د مسلمانانوپه نسبت بدنظراوکینې ته ښه وده ورکړې وه او دا د پیرنګیانودښکیلاکي اهدافو یوعمده ضرورت و چي وروستیو حالاتو دامسأله ښه جوته کړه .

دادي دپاکستان له تاسیس نه تقریباً نیمه پیړۍ تیره شوې مګردکشمیرمسأله تر اوسه پورې هم دپاکستان لپاره یوحیاتي اهمیت لري څکه همدادکشمیرمسئلې دپاکستان ملاماته کړه .

اوګنه یې کفري نړۍ اوپه خاصه توګه هندوته ورسیده . هغه دخپلي آزادي له ورځي نه غواړي چي دپاکستان په وړاندي ډېر څواکمن واوسي اوهمیشه پاکستان ترخپل تهدید لاندي وساتي اوکنه که چیري دهندوستان جغرافیایي موقعیت ته نظروکړو، هندوستان هیڅکله هم له یوه داسي خطر سره مخ نه دي چي دخپل‌ولس دقدراولوړي په بیه له ځان نه دومره لوی پوځي څواك جوړکړي. دهندوستان پوځي څواك ګڼ په نړۍ کي څلورم څواك ګڼل کیږي . هندوستان دولس لکه اوشپیته زره عسکر لري ،دالوتکوشمیریې (۸۷۰) اودټانکوشمیریې . . ۳۵ دي .په همدي توګه هندوستان له: یوې څواکمني بحري قوا نه هم برخمن دي چي دیوې احصائي له مخې یې قوت دپاکستان دبحري قواوو په تناسب اووه چنده دي.

کله چي روسانو پرافغانستان حمله وکړه نوپاکستان دلازیات خطرسره مخامخ شو چي په دي توګه دپاکستان حکومت او ولس ددولیوانو ترمنځ راګیرشو.

دي حالت پاکستان دي ته اړکړ چي باید خپلي پوځي تربیې اودپوځونو څواکمنولو ته ځانګړي پاملرنه وکړي لکه چي پاکستان په داتیره لسیزه کي په عسکري لحاظ پوره پرمختګ وکړ ترډي حده چي هندوان اوس دخپلو کفري اوپه سرکي یې دیهودو له سرپرستي اومرستي نه پرته پرپاکستان دبلوسي جرأت نشي کولای مګر روسي کفري نړۍ په څو لحاظه له پاکستان نه ویره لري اوغواړي چي پاکستان وتکوي.

اوداکار به دپاکستان له لاري چي پخپله هم په دي مساله کي زیاته دلچسپي لري ترسره کوي اودهند لپاره ښه بهانه دکشمیر مسأله ده "را" دهنددجاسوسي تنظیم ادعا کوي چي دپاکستان پخواني جمهوررئیس جنرال محمد ضیاء الحق د ۱۹۸۸ کال په اپریل کي دکشمیر دوضعي دخرابولو لپاره یو پلان جوړکړ. دا پلان چي د آپ توپیك (OP TOPAC) په نامه ونومول شو دري مرحلي یې درلودې چي اوسني وضعه داښې چي توموري پلان ګام پرګام عملي کیږي او یوازي وروستي مرحله یې پاتي ده چي هغه دپاکستان له خوا حمله ده دي کي" شك نشته چي کشمیر دپاکستان لپاره دشاهرګ حیثیت لري اوپاکستان هیڅکله هم له دي مسالي نه سترګي نش پټولاي مګر دهند دا ادعا دپاکستان لپاره له بهاني لټولو پرته بل څه نه دي څکه دکشمیر مسأله دکشمیردمسلمان ولس مسأله ده دادهغوي خپل حق دي چي باید خپله آزادي وغواړي که چیري دهندوستان حکومت دکشمیر دخلکو په باب په خپله ژمنه چي په ۱۹٤۸ کال یې کړي وه اودویم حل یې په ۱۹۵۳ کال وکړه ودریږي اودکشمیر خلکو ته حق ورکړي چي دملګروملتوترسرپرستي لاندي دخپلي ګاندي اوسیاسي برخلیك په باب خپل نظر څرګندکړي بیا مسأله پخپله حل ده ، خودا چي دهندوستان حکومت پخپله ژمنه وفا نکوي دکشمیرمسلمان ولس مجبوردي ،چي دخپلو وینو په بیه خپل سیاسي سرنوشت وټاکي . داچي دپاکستان حکومت دکشمیردمسالي کوم شفاهي ملاتړ کوي اویا ووسره خپله خواخوږي څرګندوي داله پاکستان نه داسلام غوښتني ته چي باید دکشمیرپرمسلمانانو دهندي وحشي پوځونو د زوروظلم په وجه اندیښنه څرګنده کړي اوس نه یواځې پاکستان چي ګرده اسلامي اوپشردوسته نړۍ په کشمیر کي دهندمظالم غندي نو آیا داګرد دکشمیر په مسأله کي لاس لري ؟ هندوستان غواړي اوس دامریکا اواسرائیلو په لمسون پاکستان ته دآوبو په خړولو سره پردي هیواد دتیري پلمه پیداکړي داټول هغه څه دي چي پیرنګیانو دپاکستان دزوږولو لپاره دیوي پلمي په عنوان پرېښي دي.

داچي نن امریکا اواسرائیل ولي له دي مسالي سره زیاته مینه لري په لاندي ډول یې څېړو.

په اټلسمي اونولسمي پیړۍ کي چي پیرنګیانو په نړۍ کي څومره فتوحات کړي اوڅومره ولسونه یې ښکیل کړي اوله خپلو حریفانو نه یې هم میدان ګټلي و له شلمي پیړۍ له پیل نه یې ورو ورو زوال پیل شواوددي پیړۍ ترنیمایي پورې یې په جهان کي سیادت ختم شو اودا میرات امریکا او روسیې ته پاتي شو دروس او امریکا مسابقه به هم داسي وه چي کله یو مخکي اوکله بل خودبرېژنف د واکمني پروخت روسیې له امریکا نه ښکاره نظامي تفوق درلود اوامریکا یې تقریبا تر ګراپس لاندي وه ،وروسته بیا امریکا ملاوتړله اود ریګن دریاست ترپای پورې یې پرروس ښکاره برلاسي ومونده .

دبریژنف ترمرګ وروسته روسیې بالکل دزوال لار ونیوه او دومره په چټکتیا سره یې خپل نزولي لار ووهله چي تصوریې هم نه کیده دروس دا زوال یوازي په نظامي ساحه کي نه بلکي په اقتصادي ،صنعتي او نوروساحو کي هم رامنځته شو اوداقتصاد په ساحه کي خو روسیه دومره له بدي ورځي سره مخ شوه چي ګورباچوف دګدایي کچکول په غاړه کي اچولي اودغرب خیرات ته په تمه ناست دي.

دروس دي زوال امریکا ته زمینه برابره کړه چي دنړیوال سیادت پرګدي تکیه ووهي . داخبره هم دیادوني وړ ده چي امریکا هم په ځانګړي توګه اروپا او منځني‌ختیځ په پښوودرولي ده خو اوس چي امریکا په اروپاکي دخپل سیادت له لاسه ورکولو خوبونه ویني اود دوو المانو یوکیدلو خو دامریکي دخوب عملي تعبیر کړي اوپه کرار کراریه دامریکا ټغر په سرکي په اقتصادي ساحه اروپا په نوروساحوکي له اروپا نه راټولیږي.

اوس نوچي امریکا په چا حساب کوي هغه منځني ختیځ اویا عربي نړۍ ده همدا اوس یې له شکه دامریکا اقتصاددعربي تیلوارونټوهیوادو پانګي په پښو ودرولي

۳مخ

کفري سازشونه یواځې کلك ایمان،استحکام ،اتفاق ،اوتقوی شنډولي شي

"خلیل"

لدي تاریخي حقیقت نه هیڅ مسلمان سترګي نشي پټولي چي دمخکي په سردوه دوله انسانان ژوند تیره وي یوهغه دي چي دالله درالیږل شوي آسماني قانون په مطابق شپې ورځې سباکوي اوبل هغه چي دشیطان اودخپلي نفساني غوښتني سره سم خپل ژوند مخ په وړاندي بیایي، ، لنده داچي دمخکي پرمخ دوه داسي نظامونه چلیږي چي یوحق دي اوبل باطل، ښکاره خبره ده چي دادواړه یودبل ضد اونقیض دي لکه څرنګه چي اوراواوبه دواړه سره نه یوځای کیږي همداشان حق اوباطل پخپلوکي نشي ګډیدلي دباطل ملګري اوپیروان داتشي زغملي چي حق دي غالب اوبرلاسي شي ، همداشان دحق رښتوني پیروان هم داتشي منلي چي دحق پرځای دي باطل حاکم وګرځي، همداوجه ده چي له اولي ورځي نه تیولي ترننه پوري ددي دواړوډلوترمنځ پرته دڅه درنګ نه یوپربل دسوبې ترلاسه کولو جنګونه شروع دي ، په افغانستان کي ددیارلسوکلوراهیسي دجاري جنګ علت هم دحق اوباطل دغلبې دي، باطل پرستان پدي هڅه کي دي چي په افغانستان نه دحق یعني داسلام دسپیڅلي نظام جرړي له بیخه وباسي اوهلته داسلامي حکومت پرځای شیطاني اوفرعوني حکومت قائم وساتي، موږپخپلو غړیدلوسترګو وینوچي پدي لرکي ټول باطل اوکفري څواکونه یولاس شویدي اوعملا لګیادي دافغانستان دمسلمان اومجاهد ولس په پرخلاف هلي ځلي کوي . داسي دسیسه، مکر،فریب اوچل ترینه ندي پاتي چي په کارئي نه وي اچولي ، غرض داچي باطل پرستان په پوره قوانه اوبیره دباطل برلاسي کولو لپاره هرډول تیاري نیولي اودخپل ناوړي مقصدته یولویشت هم پشاکیدوته زوره نه ښه کوي، چي کله دباطل پرستانو حالت اوکیفیت دادي نوبیا دافغانستان مسلمان ولس هم څه مهم مسئولیتو نه لري چي دباطل دتابودولو اودښمن ته دماتي ورکولو لپاره بنسټیزضرورتونه دي ترڅوپوري موجي دامسئولیتونه نه وي ترسره کړي توډېري امیدساتل ځان ته دوکه ورکول دي .

دحق دبرلاسي کولو لپاره دالله درضاپه خاطر جهادکول یوغوره عبادت دي .

اولکه څرنګه چي لمونځ روژه ، حج، ذکات او دنوروعبادتونو لپاره الله پاك لارښوونې کړیدي اودهریولپاره ئي جلاجلا شرائط اوقیودات ایښي دي همداشان دجهاد په لرکي هم چي په عبادتونو کي غوره عبادت دي یولړ لارښوونې لري ، ترڅویوري چي جهاد دالهي ښوونوپه مطابق ترسره نشي نو دالله په نزد ددي

هیڅ اهمیت نشته اونه ورته جهادویل کیداي شي . دالله په نزد جهادهله دقبول وړګرځي چي یواځې اویواځې داسلام دسپیڅلي دین داوچتوالي اوحاکمیت لپاره وشي لکه چي الله پاك فرمائي، ترجمه : تاسو کافرانوسره ترهغه وخته پوري قتال وکړي ترڅوچي فتنه نه وي ختمه شوي اودین دالله لپاره نه وي خاص شوي . همداراز الله پاك مسلمانانوته دکافرانو سره په جنګ کي ځیني اصول داسي ټاکلي دي چي مجاهددهغوله خپلولو نه پرته نه دنیوي ګټه ترلاسه کولي شي اونه اخروي . بیشك الله پاك دهغه چانصرت اومرسته کوي چي دالهي لارښوونوسره سم یې په جهاد لاس پوري کړي وي اودجهاد په باب چي څومره قیودات اوشرائط الله پاك لګولي دي هغه پوره کړي . جهاد دیته نه وایې چي ټوپك اوتوره په لاس واخلي اومیدان ته ووځي بلکي دجهاد مفهوم اومقصد هله پوره کیږي چي دجهاد په هکله څومره شرعي حکمونه دي هغه عملي کړي شي . که څه هم دجهاد په باب په قرآن کریم اونبوي احادیثوکي ډېرزیات حکمونه دي لیکن ځیني هغه ضروري لارښوونې پدي مضمون کي رااخلو ، چي دافغانستان مسلمان مجاهدولس ډېرې اوډګترماتي باعث ګرځي .

لمړي الله پاك فرمایي، ترجمه : اي مومنانوکله چي کافري دلي سره ستاسو مقابله وشي نوثابت قدم پاتي شي اوالله پاك ډېرډېر یادوي . امیدي چي تاسوته به بري نصیب شي . دالله اودرسول اطاعت وکړي اویخپلو کي جګړې مه کوي که نه په تاسوکي کمزوري پیداکیږي اوستاسورعب ختمیږي ، صبروکړي بیشك الله پاك له صابرانوسره دي . الانفال ٤٥ - ٤٦

په بل ځای کي الله پاك داسي فرمایلي، ترجمه : اي مومنانو ! له صبرنه کاروانخلي ، دباطل پرستوپه مقابله کي بهادري وښایاست اودمقابلي لپاره چمتووواوسي له الله پاك نه ویره کوي ترڅو تاسوته کامیابي په لاس راشي . له پورتنیو آیتونو څخه دجنګ په هکله څوقواني په داګه کیږي چي الله پاك وړاندي دعمل کولو حکم کړیدي، لمړي داچي کافرانوسره په پوره میړانه وجنګیږي ، دوهم داچي دجنګ په وخت کي هم الله یادوي ، دریم داچي په هروخت کي دالله اودهغه درسول اطاعت وکړي، څلورم داچي پخپلومنځونوکي له جنګ اوجګړي نه ځان وژغوري څکه چي دي سره تاسوکمزوري کیږي .پنځم" داچي صبروکړي څکه چي الله پاك له صابرانوسره دي .

پدي آیتونوکي الله پاك مسلمانانو ته وادیته ورکوي چي که چیري تاسوزمادلارښوونوسره سم جهادوکړ نوزه ستاسو مرستندوي اوملګري یم . داڅومره نیکبختي اودخوشحالي خبره ده چي الله پاك زموږ ملګري واوسي اوچي الله دچاملګري وي نوبیا دهغه څه غم وي ددنیایوڅواك هم دالله په مقابله کي دودریدوتوان نه لري ، دعاداوثمودغوندي محکم اودغښتو تنو خاوندان ئي یواځې په یرآواز اوبادپاندي په یوه شیبه کي هلاك کړیدي . موږیه اوسني وخت کي دافغانستان دمجاهدولس په لاس دروس غوندي دوحشي قوت تباه کیدل پخپلوسترګوولیدل ، چیرته دروس غوندي مادي قوت اوچیرته خالي لاس مجاهدین لیکن داالله پاك مرسته اوملګر تیاوه چي روس ئي دذلت په کنده کي واچاوه، اوټول هغه قوتونه ئي حیران کړل چي هغوي دقوت اودیري یواځیني علت مادي اسباب اووسایل ګڼل .

پدي کي شك نشته چي الله پاك پخپله وعده کي رښتوني دي اوخپلو هغویندګانو سره مرسته کوي چي دهغه جل جلاله دشریعت په مطابق خپل ژوند تیروي ، چیرته یوموسي اوچیرته دفرعون لښکر، چیرته ابراهیم اوچیرته نمرود وآذر ، چیرته محمد(ص) اوچیرته دمکي غټ غټ ظالم سرداران لیکن سره ددي دومره لوي فرق بیاهم ښېره سویه دالله دلاري دسرښندونکوپه برخه شوي اوجانب مقابل ئي له داسي رسواماتي سره مخامخ کړیدي چي دفرعون دلاش نه نن هم خلك عبرت اخلي . اواسلام ددنیا په ګوټ ګوټ کي په پوره شان اوشوکت خورشوي اوخوریږي . موږ یقین لروچي دننني عصر متکبروکافرانو غرور اوفخرهم له خاوروسره خاوري کیدای شي خوشرط یکي دادي چي موږخپل اعمال نورهم پیاوړي اوصالح کړو اوکوم نقصانات چي زموږیه عملونوکي پاتي شوي هغه لري کړو چي دهغو له جملي څخه له ټولونه لوي نقصان دبې اتفاقۍ اوافتراق دي ډلي ډلګي اوقام پالنه ده ، جاه طلبي اوخودخواهي ده . که موږ رښتیاداسلام بري اوکافران سرنګون لیدل غواړو نو بیا له هرڅه نه زیات ضرورت له دغونقصانانو څخه ځان ژغورل دي . څکه چي دالله پاك مرسته اودمسلمانانو کامیابي هله تحقق پیداکولي شي چي دالله پاك له حکمونو څخه ذره هومره هم سرغړاوي ونه کړ و لکه چي الله پاك پخپل کلام قرآن شریف کي فرمائي : ترجمه : که چیري تاسوله الله نه وویریږي اوښکاره ! ویته پرهیزګاري غوره کړي نوالله پاك ستاسو اوستاسو ددښمنانو ترمنځ فیصله کوي، تاسوته عزت اوسرلوړي په برخه کوي اوستاسو دښمنان خوارووذلیلوي اوبل ځای کي فرمائي چي دمسلمانانو پرموږحق دي، رښتیاخبره همداده اوټول خلك پدي اتفاق لري چي دنجیب دپرزلواوپشیړپریالیتوب دترلاسه کولو په وړاندي یواځیني علت دمجاهدینو ترمنځ بې اتفاقي اوافتراق دي همداراز دامریکا اودهغه دملګروولاس وهني چانس هم دبې اتفاقۍ په وجه پیداشویدي دټولو مجاهدو قیادتونو، جهادي امیرانو، قومندانانو اوبالاخره دټولو افغانانو څخه دپنځه لسولکوشهیدانو دورثه وو ، یتیمانو، کونډو، بندیانو شلو،شوټو اودټولي نړۍ دردمند ومسلمانانو همداهیله ده چي دکفردتسلط ختمولو اوداسلام دېشپړبرلاسي په خاطر پخپلو کي سره یوموټي شي اودهغه لوي ذات رضا اومرسته ترلاسه کړي چي زموږ ټول هرڅه دهغه په لاس کي دي اوبالاخره دهغه جل جلاله حضورته موورتګ دي چي هلته له خپل نیك عمل نه پرته نوردددنیایوڅیز هم پکارنه راځي ، راځي چي موږټول کلك عهدوکړو چي دالله درضا حصول داسلام سرلوړي دافغانستان بشپړه آزادي اوپه ګرده نړۍ کي داسلامي بیرغ داوچتولو په خاطرپخپلو کي ټول هغه اختلافات ختم کړو چي موږپخپله پیداکړي اوله نقصان نه پرته بل څه پکي نشته . ان شاء الله زموږ اتحادبه نه یواځې دنجیب دګوداګي حکومت په سریوحتمي اوفیصله کن ګوزاروي بلکي دټولي کفري نړۍ لپاره به هم یوتاریخي عبرت وي .

نژدي یولك لتوانیا نیانو د او وتنو دجنازي په مراسموکي ګډون کړی وو

دزمري ۱۳ :

پرون قریب یولك لیتوانیاییان دګمرك اوروتنو کارکوونکو دجنازي په مراسموکي داولینوس په ښارکي سره غونډ شوي وو، دغه کسان دچهارشنبي په ورځ ددغه جمهوریت په سرحدي څوکي کي وژل شوي وو. کله چي جنازه دورمن کاتولیك کلیسانه ورل کیده جنازي سره روانو ډېروخلکوپه لاسونوکي بلې شمعي نیولي وي اوژړل ئې . حکومت پرونی ورځ ددغواووتنو په مرګ دماتم ورځ اعلان کړه ، تحقیقات کونکو دقاتلانوپه باره کي تراوسه شواهدنه دي پیداکړي مګردروسیې دجمهوریت تلویزیون رپوټ ورکړي چي یوي ناپیژندلي ډلي ددغوقتلونو مسئولیت په غاړه اخیستي دي دغه ډله ځان امنیت موسسه بولي اووایي په لتوانیا کي دروسیې دګتوساتندویه ده .

ورونو! کوښښ وکړئ چې صالحو، امانتګرو، پرهيزګارو...

دتيري پنجشنبي په ورځ د ۱۳۷۰ کال دزمري دمياشتي په ۱۰ نيټي د حزب اسلامي افغانستان مجاهد امير ورور حکمتياردنصرت ميني دحضرت نعمان (رح) په جومات کي دحزب داووم ځلي انتخاباتودافتتاح په مراسموکي دحزب اسلامي ګڼ شميرغړواوارکانوته يوه عالمانه وينا واوروله ، چي دشهادت درنولوستونکيو دزياتومعلوماتو په خاطرېي خبرو ورورحکمتيار له حمداوثنا اودقرآنکريم دڅو آيتونوله تلاوت وروسته وويل :

ورونو! لله الحمد دحزب داساسنامي سره سم دادي دحزب دامير اود راتلونکي منتخبي شوري له پاره انتخابات پيل کيږي، له کومي ورځي چي دحزب اساس ايښودل شوي ترننه پوري اووم ځل دي چي انتخابات ترسره کيږي .

په ۱۳۵۱ کال کي موږدلومړي ځل لپاره په پوهنتون کي انتخابات کړي وو اويوه منتخبه پنځه کسيزه شوري رامنځته شوه ، دمرحوم استادعبدالرحيم نيازي له وفات نه بعد دپل تخنيك په جامع جومات کي راغونډشوي يو، اوتقريبا دوه سوه دري پنځوس کسانوپه هغه کي برخه اخيستي وه دهغو پوهنتوني ځوانانو درايو په نتيجه کي چي کوم پنځه تنه ورونه دتنظيم درهبري اواداري له پاره ديوي منتخبي شوري په حيث انتخاب شوي وو، عبارت وو له : مولوي حبيب الرحمن شهيد ،انجنيرحبيب الرحمن شهيد، سيف الدين نصرتيار شهيد اوغلام رباني عطيش شهيد ، دغه څلور ورونه زمايه ګډون ددي منتخبي شوري غړياکل شوي وو، ددي تحريك بنيادي تاسيس چي چاکړي و، له دوولسونه يوولس يي په شهادت رسيدلي، ددي جنګ په دوران کي موږمسلسل په خپل وارېعني دمجبوريتونو په وجه له نيټي نه دمخه ياوروسته داميراوشوري له پاره انتخابات کړي په دي خاطرچي موږ په انتخاباتو باور لرو دازموږ داجتماعي اوانتخابي نظام يواصل دي زموږ عقيده داده چي اميريه دولس اودامت له خوا انتخابيږي اسلام دغه حق امت ته ورکړي اوالله (ج) مسلمانانوته امرکوي چي امانت يه اهل ته سپاري . دامارت اودخلافت چاري يه هغه چاته سپاري چي هغه ددي اهل وي .

الله (ج) موږيه دي مکلف کړي يو، دايوعادي مسئله نه ده که دامير دانتخاب له پاره دانتخاباتو له لاري يوملت اوامت چاته رايه ورکوي . ګواکي چي دهغه په ايمانداري ، تقوا ، عدالت اوبصيرت ګواهي ورکوي ، داسلام راشده وو خلفاوو دانتخاب طريقه موږته دابنيي چي اسلام داميردانتخاب په هکله ... او دادهغه واجب دي چي ددي خبري خيال وساتي چي امانت اهل ته سپاري په دي مسئله کي به نه يي تفاوته يو اونه به داعادي قضيه ګڼو دا رايه ورکول اويوڅوك داميريه حيث منل دومره اهميت لري چي حضرت امام حسين (رض) له خپل ټبرسره په کربلاکي ددي لپاره په شهادت ورسيده . ددي معني داده چي دادپراهميت لري . چي يوڅوك ديوي رايي په خاطر دي ته تيارېږي چي دي اوټول ټبربي په شهادت ورسيږي . ددي معني داده چي دارايه ډيراهميت لري .

اودايولوي الهي امانت دي دايوالهي مسئوليت دي موږيه په دي مرحله کي له خپل ټول شوق او ذوق سره اودمسئوليت له احساس سره برخه اخلو اودامسئله به مهمه اوجدي ګڼو اوددي خبري مراعات به کووچي مسئوليت او امانت اهل ته وسپارو .

ورونو ! دحزب سابقه شوري پس له هغه موچي حالات داسي ولېدل ، چي مخصوصا يوي لويي اومقتدري شوري ته ضرورت دي، ددي فيصله يې وکړه چي بايد راتلونکي انتخابات لږ رادمخه شي اوپه شېږومياشتوکي انتخابات ترسره شي اومقتدره شوري جوړه شي، فرد، فردد‌شوري داخبره محسوس کړه چي اوس دحزب لمن خپره شوي ده اوداموجوده شوري دحزب ددي پراخ والي اودنفوذ لپاره کفايت نه کوي او دوروتو سره دارايه وه چي زموږ دغه تيره شوري داسي وه چي داکثرو ولايتونو بااڼدګان نه وو، بايي ډيرکم غړي په شوري کي درلودل، اواوس وضع داسي ده چي بايد کم له کمه دهري ولسوالي يوه رايه دشوري په پريکړوکي وجودولري، حزب په ټول افغانستان کي په هره منطقه اوپه هراداري واحد کي په هره ولسوالي اوعلاقه داري کي ديوقوت په حيث نفوذلري ، دافغانستان دهري سيمي خلك له حزب سره تعهد لري، ددوي بايد نمايندګي وشي اوهغوي بايد په شوري کي غړي ولري چي دهغوي نمايندګي وکولي شي، په دي خاطر فيصله وشوه چي سابقه شوري ناقص اوکمه ده اوحزب يوي لويي مقتدري شوري ته ضرورت لري بايد انتخابات لږ رادمخه کړو اواصولاً بايد دا انتخابات په شنبله کي ترسره شوي واي ، زموږ فيصله داوه چي مرکزي شوري بايد شپږمياشتي دمخه جوړه شوي واي چي ترڅو موږ يوه مقتدره شوري ولرو، متاسفانه دځينو معاذيرو په وجه موږ ونشوتوانيدلي چي په همغوتيروشپږومياشتوکي انتخابات تکميل کړواواوس يوه مقتدره ، منتخبه شوري دحزب دچارووآګي په لاس کي لرلاي ، داکار ترډي وخته پوري معطل شو، سره له دي چي په دي حصه کي ډېراهتمام شوي دي زموږ ټول توان اوطاقت او دتخطيط

> **دا پر تاسي ده چي داسي يو حزب چي د سلونوزرو شهيدانو ، يتيمانو او کونډو سرنوشت په هغه پوري تړلي دي ، چاته سپاري ؟**

اوتنظيم رياست په دي باب په اخلاص اوصداقت سره پامطرنه کړي اوپه خپل ټول توان اوطاقت ئي په دي حصه کي ګوشش کړي، ولي متاسفانه چي زموږ ارکان اواعضا تثبيت نه وو که دحزب اعضا اوارکان مخکي له مخکي نه تثبيت شوي واي اودايه تنظيمي حلقو کي مرتب شوي واي، نواوس شايد داکار دومره ځنډيدلي نه واي ، لاډيردمخه موږ داانتخابات تصويب کړي وو، ولي په دي خاطرچي دارکانو اواعضا و شمير اوس ډيرزيات دي دتخطيط اوتنظيم رياست تخميني اندازه داده چي شايد يوملبون کسان په دي انتخاباتوکي شرکت وکړي اودخپلي رايي حق ولري يوملبون اعضا او ارکان ، ارکان هغه دي چي ترلسو کلو زيات په حزب کي پاته شوي اواعضا هغه دي چي کم له کمه دامو‌ده يي شپږکاله وي دغه کسان چي ترشپږوکالو زيات په حزب اسلامي کي پاتي شوي وي اوپه دغوانتخاباتو کي به داميراودشوري دغړولپاره رايه ورکوي شميريي تقريبا يوملبونو ته رسيږي ديوملبون کسانو ارکانو او اعضاوتثبيت داڅه اسانه کارمه ګڼئ . دا بي ايجابول چي ټولو ولايتونوته هيئتونه ولېږل شي ، شپه ورځ په دقت سره سترپانه منتونکي کاروکړي ، ترڅوارکان اواعضا تثبيت شي اوس لله الحمد داکارتکميل شوي دادي تن دلته دانتخاباتو پروسه هم پيل کيږي په نوروځايونو کي هم داکار شروع شوي خداي (ج) دي وکړي چي ژرترژره دهغه نتايج راغونډشي اوحزب اسلامي يومقتدره ، منتخبه شوري ولري . ان شاء الله دحزب راتلونکي منتخبه شوري چي دهري ولسوالي اوعلاقه داري نماينده به په هغي کي غړي توب ولري دحزب لپاره نوي پاليسي اونوي اجرائيه شوري جوړوي دحزب تګلاري ، لوايحو مقرراتو اونورو په باب به له سره نوي غورکوي اويه دي توګه به داتوي شوري داسي تصاميم نيسي چي حالات اوشرايط يي ايجابوي .

ورونو ته زما پيشنهاد دادي چي کوشش وکړي چي صالحو اومخلصو کسانوته رايه ورکړي ، داسي کسان راوراندي کړي چي دهغه له امانت ، اخلاص اوله اسلام سره تعهداويه دي تحريك کي يي له سابقي نه داده اومطمئن وي، لکه څنګه چي په شرايطو اولوايحوکي وضع شوي دي دوه کسان چي کولي شي دشوري دعضويت لپاره کانديد شي دايه هسي څه شکلي مقررات نه ګڼئ، بلکي دي ته په اهميت ورکوو، دي ته په جدي توجه کوو ، ترټولوصالح اومخلص کسان چي داسلام په لاره کي يي قرباني ورکړي وي، په دي تحريك کي سري تودي شپي ورځي تيري کړي وي اوددي مبارزي دخم ويچ په دوران کي يي دامعلومه شوي وي چي هغوي اسلام ته مخلص دي، داسلام په نسبت تعهد لري، اوداسلام لپاره قرباني ته تياردي، هغه چي تاسوازموېلي دي اوپه تجربه تاسي ته ثابت شوي وي، چي د يواسلامي امت اويوسترااسلامي حزب دقيادت اورهبري اهليت اوکفايت لري، په هغه کي همدومره پوهه اواخلاص شته چي دغسي يودروند مسئوليت ورته وسپارلي شي نوداسي کسانوته رايه ورکړي . په رايوورکولو کي بايد ددي خبري خيال وساتي چي معامله موله خداي (ج) سره ده ، دالله (ج) ددين چاري اوکاروته تاسي چاته سپاري ، ددي حزب رهبري اوقيادت بايد چاته وسپاري، دهغه حزب چي په سلهاوو زروشهيدان لري په سلهاوزره يتيمان اوکونډي په هغه پوري

ترلي دي، دهغوي سرنوشت په دي حزب پوري تړلي دي . په لکونو مجاهدين دهغه ترېيرغ لاندي جنګيږي دټول ملت دامېد سترګي هغه ته اوښتي ، ټول امت په هغه حساب کوي اوهمغه حزب چي داملت يي راويښ کړ، دجهاد فريضه يي احيا کړه ، په ملت کي يي دضعف اوعجز احساس ختم کړ اودهغه پرځاي يي اسلام ته عزت اوقوت راپيدا کړاوټول ملت په همدي حزب حساب کوي، ددغسي يوحزب درهبري اوقيادت لپاره تاسورايه ورکوي ، دخداي (ج) په خاطر تاسويه همغه چاته رايه ورکوي چي هغه ددي لوي امانت لپاره صالح اومستحق ګڼي په هغه کي همداکفايت اودرايت وينې .

ورونو ! زموږ دمشکلاتو دحل لارشوري ده ، زموږ دوحدت اويووالي ضامن شوري ده ، له اشتباهاتو او غلطيونه دمخنيوي لارموشوري ده ، دايوالهي واجب دي يوه مسئوليت له پاره شوري څه يوشکلي کارنه دي که شوري زموږ اختلافات حل نه کړاي شي ، په بل څه زموږ اختلافات نه شي حل کېداي ، موږ په خپل مسائل دالله (ج) دين اودپيغمبر اکرم (ص) سنتواوداشده خلفاووکرنلاري ته راجع اودهغه په قضاوت اوحکم به قانع اوراضي يو، په دي ترتيب به زموږ په دېني اودنيوي مسائلو کي اختلافات حل کيږي ، اودشوري داکثريت فيصله به منو، چي اکثريت پرڅه باندي توافق وکړهغه نظر به صالح اوخيرګڼو، اوده‌ټولو نظريه همغه وي، دهغه به ملاتړاوتائيد کوو، په دي ترتيب به اختلافات حل کيږي ، داختلافاتو دحل يوازيني لاره شوري اودهغه دپريکړويه نسبت التسلّم کول دي درايي اختلاف په يوه ټولنه کي طبيعي خبره ده .

> **روان حالات ايجابوي چي موږ دټوطيو دشنډولو ، د انقلاب درهبري کولو او ديوه قوي اسلامي حکومت دجوړولو لپاره يو ټينګ تنظيم ولرو**

چي پنځه کسان هم په يوه ټولنه کي سره راغونډدي ، په يوه کورني کي په يوه وله ، تنظيم اوحزب کي دهغوي ترمينځ دقضاياوو په هکله درايو اختلاف حتمي دي، طبيعي خبره ده ، خودادرايي اختلاف په دالله (ج) دين ته راجع کوو، په کومو مسائلو کي چي موږ مکلف يو شورا وکړو شوري به کوو اوداکثريت فيصله به منو، بيابه په خپلي رايي کلك نه يو، له خپلي رايي نه به تنازل کوو، په خپلي رايي به اصرارنه کوو خو د بزرګ بيني به نه کوو، غرور به نه لرو، اوخپله رايه به دنوروترړايي بهتره اوغوره نه ګڼو، بلکي چي اکثريت په څه راغونډ شو دهمغه رايي ملاترپه کوو، په دي ترتيب به په داخل ديو اجتماع کي داختلافاتو دحل لاره لټوو، داختلافاتو دحل لاره همداده . چي موږ خپل قضاياشوري ته راجع کړو، اوداکثريت دفيصلي به ملاترکوو، همداوجه ده چي پيغمبر(ع) فرمايي چي زما امت به پرضلالت اوګمراهي نه غونډيږي هغه (ص) فرمايي چي تاسوسوادِاعظم پيروي وکړي اوددوي په څنګ کي ودريږي .

سواد اعظم يعني اکثريت داچي پيغمبر عليه السلام فرمايي چي تاسي دامت دسواد اعظم اوداکثريت ملګرتياوکړي معني يي داده چي دهغه (ص) دامت اکثريت ټول پر ضلالت اوګمراهي ته راغونډيږي زموږ به همدغه فيصله وي، په هغه مسايلوکي چي زموږ رايي پوري مربوطي وي نودشوري دپريکړي سره سم به التزام منو په دي ترتيب به زموږ مشکلات حل کيږي داختلافاتو مخه به نيول کيږي او ترټولو په غوره رايه به دراغونديدو امکان ترلاسه کوو.

ورونو دجهاد روان حالات ايجابوي چي موږ يوقوي تنظيم ولرو، دټوطئو دمقابلي له پاره ، ددي انقلاب درهبري له پاره اوديوه قوي اسلامي حکومت دجوړولو له پاره موږدي ته اړيو چي يوقوي اومنظم حزب ولرو، قوي اومنظم حزب ديوځمنتخبي اومقتدري شوري نه پرته امکان نه لري، ترڅوچي موږ دشوري اصل احيا کړي نه وي، دهغي پراهميت پوهيدلي نه يو، دهغي په نسبت التزام ونه لرو اوعملا موږ يوه قوي اومقتدره شوري ونه لرو، نه يوقوي حزب جوړولي شو اونه هم

يوقوي حکومت په افغانستان کي جوړولي شو، که حزب دنوروډلو په نسبت برتري اوامتيازلري لمن يي خوره ده ، دټوطئو دمقابلي استعداد لري اوتوانيدلي دي چي د دښمن توطئي شنډي کړي، وجه يي داده چي حزب نسبت نوروته په تنظيمي لحاظ منظم دي، په حزب کي شورايي نظام دي ، دلته داميراودشوري دغړو اودټولودرجه يك مسئولو اشخاصو له پاره راي ګيري کيږي، اوهمغه څوك راوړاندي کيږي چي اکثريت ورباندي اعتمادلري، که څوك اجرائيي ته راځي شوري ورته رايه ورکوي اودشوري اعتمادلري، که څوك شوري ته راځي ارکان اوغړي ورته رايه ورکوي، همغه کسان راوراندي کيږي چي ارکان اواعضا ورباندي باورلري اودجهاد په دوران کي هغه ثابته کړي وي چي ددي تحريك په نسبت اودهغه دهدف او مقصد په نسبت تعهد اوالتزام لري ، په دي خاطر ورباندي اعتمادکيږي شوري ته راځي اجرايي ته راځي .

حقيقت دادي چي جهاداوس له سرنوشت سازي مرحلي نه تيريږي دجهادپه خلاف له هري خوانه توطئي راروانې دي،دښمنانو لاسونه رااوږده کړي دي ، ددي هڅه کوي چي په افغانستان کي دمجاهدينو په لاس يوقوي اسلامي حکومت جوړنشي ددغوتوطيو دشنډولو له پاره که حزب غواړي ټوله يوقوي تنظيمي قالب پرته ددي توطئو مقابله نشي کولاي ، حزب اسلامي دتوطئو هدف دي، دښمنان يواځي حزب اسلامي دخپلو اهدافو په وړاندي خنډګڼي، ټولو دحزب دټکولو، ختمولو، اودتضعيف اويدنامولو لپاره لاس پوکړي خوددي په پروانه لرو، که موږيه داخلي لحاظ منظم اومتحدوو، اودښمن ونشوتوانيدلي زموږ په حزب کي ضعيف النفسه افراداستخدام کړي توان شاء الله داټولي توطئي به شنډيږي ، لکه دجهادله پيل نه ترننه پوري ددي ملت پرخلاف اودجهادپه ضد ټولي توطئي حزب اسلامي شنډي کړي ، ان شاء الله داتوطئي به هم دجهادپرخلاف خيرالماکرين خداي (ج) شنډوي اوداافتخاريه دحزب اسلامي منظمتيا ګڼو .

ورونو ! دمځدغومسائلو په ارتباط چي اوس زموږ جهادورسره مخامخ دي يو هم دافغانستان دقضيي سياسي حل او په دي هکله دملل متحد هلي ځلي دي، اودهغوي پنځه فقره ايزه طرحه ده ، چي مجاهدينو خپل موقف دهغه په باب څرګندکړي .

موږويلي دملل متحد طرح غيرعملي د اوموږ ته دمنلووړنه ده ، په ځانګړي توګه دملل متحد طرح پردي مبتني ده ، چي دبين الافغاني ديالوګ اومذاکري په نتيجه کي دي يوموقت حکومت جوړشي بيا دي اوبيا دي اوانتخابات وشي .

الحمد لله ددي تيرو څوورځو

> **شوري زموږ دمشکلاتو دحل لار، ديووالي ضامن او د غلطيو دمخنيوي مؤثره وسيله ده**

مذاکراتويه نتيجه کي چي ټولو تنظيمونو په هغه کي برخه اخيستي وه ، له يوددوو نه ماسوي چي په دي کي دپاکستان دحکومت نمايندګانو هم اودايران دحکومت له نماينده ګانو سره له تفاهم نه بعد يوه مشترکه اعلاميه صادره شوي چي دهغه اساسي ټکي دادي دنجيب حکومت يوغيرقانوني حکومت دي اودقضيي حل داايجابوي چي دنجيب حکومت نسکورشي ددي پندمفهوم دادي چي نجيب ، وله بي اوحکومت يي غيرقانوني دي، له هغه سره خبري اتري نشي کيدي ، له هغه سره ائتلافي حکومت نشي جوړيدي اوکه څوك غواړي دافغانستان مسئله حل شي نودنجيب حکومت بايد خامخا له منځه ولاړ شي په دي طرح کي ائتلافي حکومت منتفي شوي، ځکه ائتلافي حکومت يه له نجيب سره دخبرواترويه نتيجه کي رامينځ ته کيده اوس دنجيب حکومت غيرقانوني حکومت ګڼل شوي چي دهغه انحلال اوسقوط دافغانستان دقضيي دحل له پاره شرط شميرل شوي په دي ترتيب دائتلافي حکومت سوال هم منتفي شوي اوامکان بي هم ختم شوي ، ټول هغه تنظيمونه چي حتي په دي متهم وو چي دنجيب سره خبرواترونه کشيښتي اوبوائتلافي حکومت جوړولو ته تياردي ، هغوي هم دااعلاميه منلي اوپرهغي بي امضا کړي اوس ددي اعلاميي په نسبت هغوي متعهددي اوالتزام لري . په دي اعلاميه کي په منتخب اسلامي حکومت تاکيد شوي، دنجيب حکومت دنسکوريدونه بعد، دملت رايي ته مراجعه اويومنتخب اسلامي حکومت جوړول داددغي اعلاميي اساسي ټکي وو، چي موږ دادي دحزب اسلامي ځوادخپل ملت له پاره يولوي موفقيت ګڼو، ترډي دمخه خلکودلويي جرګي اودعنعنوي سيستم اونظام خبري کولي، خواوس دټولو تنظيمونو په شمول دايران

اوپاکستان حکومتونو داخبره منلي ، چي دافغانستان راتلونکي حکومت بايد منتخب اواسلامي وي . موږ دا دمجاهدينو له پاره يوه لويه فتحه ګڼو .

دايران په باب هم داسوالونه اوتشيشونه وو چي ګويا ايران په افغانستان کي يوائتلافي حکومت غواړي، دمسکوسره دايران نيږدي تعلقات او دوستانه روابط اودکابل له حکومت سره نيږدي روابط اودنجيب کوزيدل په مشهدکي ، دهيئتونو مبادله اوتګ راتګ دغوټولوداتشويشونه راپيداکړي وو چي شايد ايران ددي غوښتونکي وي ، چي په افغانستان کي دي له نجيب سره يوائتلافي حکومت جوړشي خوالله الحمد اوس ايران هم ددي اعلاميي دصادرولو نه بعد ددي په نسبت التزام کړي چي دنجيب سره نه خبري اتري کيدلي شي نه ائتلافي حکومت جوړيدلي شي ، نجيب بايد خامخا لري کړاي شي، دهغه حکومت بايد نسکورشي اودانتخاباتو په نتيجه کي يو منتخب اسلامي حکومت جوړشي، موږ په دغسي يوي مهمي اعلاميي باندي دمجاهدينو دټولو ولوتوافق اوحتي دهسايه ملکونو دحکومتونو توافق دمجاهدينو لپاره يولويه فتحه ګڼو حالات دابنيي چي دازموږ موقف په حقه دي اوغه چي موږ وايو همدغه عملي دي، له دي نه ماسوي دافغانستان مسئله له بلي لاري نه شي حل کيدي . موږ وايوچي ائتلافي حکومت نشي جوړيدلي، داغيرعملي دي، هيڅوك په افغانستان کي له نجيب سره ائتلافي حکومت نه شي جوړولي . موږوويل چي دافغانستان دقضيي دحل لارد اده چي دنجيب حکومت بايد بلاقيد اوشرطه نسکورشي، دهغه ځاي يوموقت حکومت ونيسي، چي نه دنجيب ملګري په هغه حکومت کي وي نه دظاهرشاه ملګري اودمجاهدينو ورباندي توافق راشي، مجاهدينو ته دمنلو وړوي بيا انتخابات ترسره شي اويومنتخب اسلامي حکومت ته اقتدارووسپارل شي، لله الحمد اوس اصولا دافغان جهاد ټولو ولو اوحتي دهسايه ملکونو حکومتونو هم ددي خبري سره توافق کړي ، موږ دادمجاهدينو لپاره لويه فتحه اوستر بري ګڼو .

ځيني کسان په دي باب الزام لګوي(چي نه غواړم څه خاص لقب اونوم ورته ورکړم)

تبليغات کوي چي ګويا حزب اسلامي اوس دخپل دريځ نه راګرزشوي ، ولي ددغو خلکو سره پوځاي شوي اوداخبره يي منلي ده ؟ په دي خاطرمادالازمه وګڼله چي ددي وضاحت وکړم : موږ چي په کومي اعلاميي توافق کړي دهغه اساسي ټکي اويندونه همدادي . دنجيب دحکومت نسکوريدل، دهغه غيرقانوني ګڼل اودافغانستان دقضيي دحل له پاره دهغه نسکورول يو اساسي شرط ګڼل، ائتلافي حکومت منتفي ګڼل، دمنتخب اسلامي حکومت تاييدکول اوداچي خپله مجاهدين به کيني اوتصميم به نيسي داهم يويل موفقيت دي، مجاهدين به کيني ، دملل متحد دطرحي په ارتباط به دخپلي دغي اعلاميي په رڼاکي نوي دريځ نيسي ، دايه اعلاموي بيا به له دوستانو ته هم ددي مطالبه کيږي ، چي ددي دريځ اوموقف ترشا ودريږي ، زه په صريح الفاظو وايم يوځل بيا په دي خبره تعهد کوم چي موږ به هيڅانه موقع ورنکړوچي دافغانستان په داخلي امورو کي مداخله وکړي اودبهرنه تيل شوي تحميلي حکومتونه راپاندي ومني، په دي خبره به اصرارکوو، چي بهرني مداخلي دي بندي شي، دنجيب حکومت دي نسکورشي، افغان ولس ته دي ددي موقع ورکړاي شي ، چي له بهرني فشاراومداخلي نه پرته خپل سرنوشت وټاکي، دخپلي عقيدي په رڼاکي اودخپلوملي مصالحو په رڼاکي خپل سرنوشت وټاکي، اودخپلي خوښي منتخب اسلامي حکومت جوړ کړي ، حزب اسلامي ددغه موقف په نسبت تعهد لري اوټينګ ولاړ دي، ترڅوچي په افغانستان کي منتخب اسلامي حکومت نوي جوړشوي حزب اسلامي به له جهادنه لاس نه اخلي اوسنګرونه به نه پريږدي خپل جهادته به ترهغه ادامه ورکوي، چي دنجيب حکومت نسکورشي اودهغه ځاي يو منتخب اسلامي حکومت ته چي مجاهدين يي جوړوي ، اودافغانستان ولس ور باندي اعتمادلري پريښودل شي . اقول قولي هذا استغفرالله لي ولکم والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته .

داسلامي ځواکونو...

دي امريکا غواړي چي دتل لپاره يي داسيمه په منګولو کي وي دهمدي هدف لپاره دمنځني ختيځ دسولي کانفرانس لپاره منډي تړړي کوي او غواړي چي عرب له اسرائيلو سره پخولاکړي اوکوم لږ اواحتمالي خطر هم چي دعراق له ټکولو نه وروسته اسرائيلو ته متوجه دي له منځه يوسي دامريکا جمهور رئيس جورج بش روسيي ته دخپل وروستي سفريه ترڅ کي ګورباچوف پدي قانع کړ چي بايد ددي کنفرانس په سرپرستي کي ورسره برخه واخلي .

که منځني ختيځ له يوي خوا نه خپله ټوله پانګه دامريکي په اختيارکي ورکړي اوامريکا يي پانګونه هم دهمدي عربي هيوادو په پيسوچليږي له بل پلوه داسيمه دامريکا لپاره په نظامي اونوروساحوکي ديوه مهم مارکيټ حيثيت هم لري.

اوس چي پاکستان دڅوند په ټولو ساحوخصوصا په نظامي ساحه کي ورو ورو په پښو ودريږي اوله بل پلوه يي له عربي نړۍ سره مناسبات هم ښه دي اوحتي پاکستاني پوځ د زياترو عربي هيوادو په ساتنه کي مهم رنقش درلودلي دي که پاکستان کاملا په خپلو پښو ودريږي نوکيداي شي چي دغربي نړۍ دريم مارکيټ پاکستان اشغال کړي .

پاکستان چي تر اوسه ځومره وسلي اونظامي وسايل جوړکړي ډيرموثردي اوپله مهمه ځانګړ نه يي داده چي داوسايل يي دنړيوالو په پرتله په ډيره کمه بيه جوړ کړي، دمثال په توګه پاکستان چي د " عنزه " په نوم د ستنګرمعادل دالوتکو ويشتو کوم توغندي جوړکړي دامريکا يي توغنديو په نسبت ډير موثر اودامريکا يي توغندي ديبي په څلورمه برخه يي جوړکړي.

امريکا ته يوستنګرتوغندي په سل زره ډالره تماميږي حال داچي پاکستان ته " عنزه" په ۲۵ زره ډالروتماميږي اوس توکه امريکا دا توغندي په عربو پلوري نوکه پخپل سربي هم ورکړي نو په سل زره ډالرو به يي ورکوي اوګ‌پاکستان دالقوغندي پري پلوري توکه د خپلي بيي په دوه چنده يي هم ورکوي نويه بخوس زرو ډالرو به يي ورکوي چي پدي توګه به يي په يوه توغندي کي پنځه ويشت زره ډالره ګټه کړي وي . په همدي توګه پاکستان چي د" الخالد" په نوم اوس ټانګ جوړکړله تي ۷۲-۷۲ نه ډير ګرندي اوموثر دي اودنړي په پرتله په نيمه بيه تمام شوي ،که دپاکستان دوسلو توليد زياتيږي نو دامريکا نورمارکيټونه هم خپلولاي شي.

له بلي خوا امريکا ته په سيمه کي دخپل شيادت اونفوذ دساتلو په خاطر د اسرائيلو موجوديت ډيرمهم دي ، امريکا په هره بيه چي وي داسرائيلو دساتني لپاره هلي ځلي کوي لکه چي ددي مطلب ته مومخکي هم نغوته وکړه او داسرائيلو خودخپلواوند اوبقا مسأله ده .

اوس چي داسرائيلو دسترګو اغزي عراق له پښو ولويد ، اسرائيل له ايران او پاکستان نه ويره لري . د امريکا دو روستي نړيوال نظام يوعمده جز دايران او پاکستان ټکول دي . البته ايران اوپاکستان هم په دي حقيقت ښه پوه دي .

لکه چي څو ورځي دمخه پاکستان ته دايران دهوايي قواو دافسرانو راتګ اودګډو تمرينو په باب غوروايران اوپاکستان ددي اندېښني ښه څرګندوي دي لويديځ ته اوس ددي هدف درسيدو لپاره ډېره ښه لاره هندوستان دي .

ځکه هندوستان هغه هيواد دي چي په طبيعي توګه له پاکستان سره دښمني لري اوکله يي چي امريکا اواسرائيل پرشاوېډوي نوبيا څولانړوورشي .

دمنځني ختيځ په اوسني لانجه کي دهندوستان دريځ دابنه جوته کړه چي هندوستان دامريکا اواسرائيلو دوستي ته ډېر ارځښت ورکړي اوهغوي دهندوستان دوستي ته اړدي لکه چي داسرائيلو جاسوسي تنظيم "موساد" اودهند جاسوسي تنظيم "را" سره ډېري نژدي اړيکي اويوله بل سره زياته همکاري لري .

ان چي دجنرال ضيا الحق په شهيد ولوکي هم ددي دواړوشيطاني اداروتقش له نظره نشو غورځولاي.

هندوستان ۳٤ فرقي پوځ لري اوهمدا اوس يي ۲۲ فرقي دپاکستان په سرحداتوکي ځاي پر ځاي کړي دي . ديوه خبرله مخي چي همدااوس داسرائيلوکماندو دهندوستان په يوه جنوبي ايالت کي په تمرينانو بوخت دي اوځان دپاکستان، پر اتومي تنصيباتو دحملي لپاره چمتو کوي . دپاکستان صدراعظم نوازشريف هم له يوي عربي ورځپاني سره په مرکه کي ويلي دي:

چي اسرائيل دپاکستان پراتومي تنصيباتو حمله کولاي شي اودجنرال اسلم بيګ داخبره چي په سرينګرکي داسرائيلي وګړو موجوديت (اشاره يي هغو اسرائيلو وګړوته وه چي کشميري مجاهدينو نيولي اود... کماندو پوري مربوط کسان وو) هسي ساده خبره نه ده .

هندوستان څو لاروميي پرپاکستان دحملي لپاره هوسيده لکه چي دهندپوځ اندراګاندي ته پيشنهاد کړي ؤ چي پرپاکستان دحملي اجازه ورکړي اوداحقيقت بيا وروسته امريکا يي حکومت په ۱۹۸٤ کال کانګرس ته هم څرګندکړ هندو ستان د ۱۹۸۱ کال راهيسي دپاکستان داتومي تنصيباتو پرخلاف هلي ځلي پيل کړي دي اوپه ۱۹۸۵ کال يي دي هلوځلو ته لاپسي وده ورکړه اوراجيو ګاندي په دي ويره دروسيي ،امريکا اوفرانسي دوره هم وکړه .

حقيقت دادي چي امريکا روسيي داسي لګرګاوډ ،چي يوازي دجنرال ضيامو‌جوديت اودهغه په شانه تلونکي دريځ دامريکا دګټو په مخ کي خنډېدي.

خوکله بي چي جنرال ضيا شهيد کړ اويبا هم دپاکستان په دريځ اونظامي اوسياسي مسايلو کي کوم تغيير ونه ليدل شو او امريکا ته داثابته شوه چي جنرال ضيا چي کومه لاره نيولي وه دا دپاکستان دټول مسلمان ولس دهيلو څرګندويه وه اويه ځانګړي توګه پاکستاني پوځ خوهيڅکله هم دا لارنه پريږدي اوله دي ، نه پرته اوسني حکومت هم هغه خبري کوي چي ضيا کولي لکه چي نوازشريف په يوه مرکه کي داسلامي ګډ دفاعي پوځ دجوړولو خبره کړي ده نوامريکا اوس يوه لارلري چي هغه داسرائيلويه مرسته دهندوستان له لاري دپاکستان پراتومي تنصيباتو حمله ده اوچي دا کار وشودي کي شك نشته چي دهند اوپاکستان جګړه به تنبلي او امريکا اواسرائيل به په دغه جنګ کي دهند سره ډېره مرسته کوي اوددي سره سره له هند سره دروس مرسته هم له پامه نشو غورځولاي.

که چيري داسلامي نړي دا حال وي چي استکباري ځواکونه دي يومسلمان هيواد ټکوي اونوردي ورته ټيټه ګوري نو اسلامي نړي به تل دکفر دغلامي ترجغ ،لاندي ژوند تيروي اوله سياسي آزادي نه به محروم وي . پکاره ده چي اسلامي نړۍ يوګډکنفدراسيون اوګډ دفاعي پوځ تشکيل کړي ، يوه بين الاسلامي اداره جوړه کړي .

چي دمسلمانانو ټول مسايل له هغي لاري حل شي . په همدي توګه اقتصادي صنعتي او..... ګډي همکاري هم داسلامي نړي يوه فريضه ده . داکاريه په اسلامي امت کي نوي ساپوکړي اويوځل بيا به خپل تيرېرم ته ورسيږي.

که مسلمانانودخليج په اوسني ډيره کي بي تفاوتي نه واي ښودلي اودعراق – کويت لانجه يي پخپله حل کړي واي اوامريکا اونوروغربي ځواکونو ته يي دمداخلي اجازه او حق نه واي ورکړي نن به ايران اوپاکستان داستکبار ترتهديد لاندي نه و.

مسلمان امت بايد پدي پوه شي چي کفري نړۍ هيڅکله هم نه غواړي چي مسلمانان دڅوند په يوه برخه کي هم په پښوودريږي . موږ به هله دکفري ځواکونو مقابله وکړاي شو چي په ګرد اسلامي امت کي دوحدت اواخوت اصول احيا کړو.که ګرده غربي نړۍ يوه عراق ته يوموټي کيداي شي نوبيا اسلامي نړۍ ولي د ښکيلاکي ځواکونو دمخنيوي لپاره نشي سره يوکيداي.

ارشاد نبوي

مومنان راستين را در مهرباني ، دوستي وعطوفت با يكديگرشان ، همچون پيكر واحدي مشاهده مينمايي كه هرگاه عضوي از اعضاي ايشان ناراحت گرديد ، آسايش همه آنان برهم ميخورد.
(بخاري ومسلم)

اسلامي كنفرانس دي دملګرو ملتوطرحه له تائيدوي

استاد "سياف"

پيښور :

داتحاداسلامي افغانستان مشراستاد سياف په استانبول . كي داسلامي هيوادودبهرنيوچارو دوزيرانو رواني غونډي ته په يوه پيغام كي ويلي چي، دغه كنفرانس دي دافغانستان په هكله دملګروملتودسولي طرحه نه تائيدوي، استادسياف په پيغام كي زياته كړي چي دغه كنفرانس دي دروس او امريكادګډ فشارمقابله وكړي اوپه افغانستان كي دي مجاهدينو دموقتي حكومت دجوړيدو زيارويباسي .

هغه زياته كړي ، كه پرموږ باندي ددپيلوماتيكي آدابو سره دناپلدي تورهم ولګيږي تو بياهم موږله خپل تعهد نه په شاكيږو. په پيغام كي ويل شوي كه چيري اسلامي كنفرانس په افغانستان كي دجګړي له منځه وړلو دملي وجوهاتو په نظركي نه نيولو سره دملګروملتوطرحه تائيد كړي نودابه مشكلات دوه برابره كړي . هغه ويلي چي دواړه سترځواكونه دافغانستان په خلاف سازش كي ملوث دي او امريكا غواړي دروس په مرسته دمجاهدينو نظامي بري له منځه يوسي .

ديالوګ دراماتيك سران ابرقدرتها درماسكو

مسلمان درشرق ميانه آرام نمايد . با شكست عراق درجنگ خليج وتخريب تاسيسات اتومي آنكشور، يك كشورنيرومند جهان اسلام ازپادرافتاد وهكذا تحريم صدورتسليحات توسط امريكا ومتحدين آن به كشور هاي شرق ميانه ودرعوض تقويت بيرويه اسرائيل ازجانب هردوابرقدرت ، اقدام ديگريست كه كشورهاي اسلامي را به سقوط تدريجي دربرابر توسعه طلبي ويكه تازي صهيونيزم سوق ميدهد. آنروزهم دورنيست درصورتيكه كشورهاي ديگرمنطقه دربرابر نظام استعماري جديد امريكا علم مخالفت بلند نمايند، به سرنوشت عراق گرفتارشوند . چنانچه اسكان وآموزش عوامل صهيونيستي درهندوافغانستان بقصد تخريب تاسيسات نظامي پاكستان ، ايران وبنگله ديش شاهد روشن اين مدعاست .

دركنفرانس ماسكوسران روسيه وامريكا روي تقليل سلاح اتمي بموافقه رسيدند حالانكه انديشه تقليل سلاح ازسالهان درازي برسرزبان هابودولي زمامداران وقت هردوابرقدرت نسبت بي اعتمادي بريكديگر موفق به امضاي چنان موافقتنامه اي نمي شدند . امريكا براي تعميل خواسته ها وتثبيت تركتازي اش درسطح بين اللللي حاضرشدتاغرض سامان بخشيدن اقتصادورشكسته روسيه ، روابط تجارتي ويژه اي راباآن كشوربرقرارنمايد، مناسبات تجارت خاص پيشنهادي بوش ، طرحي است كه به فيصله مجلس سناي آنكشور رسانيده شده وباتعميل آن تمام موانع سرراه دادوستدميان دوكشور ازميان برداشته مي شود .

مشكلات اقتصادي وجنبش آزاديخواهي مليت هادرقلمروروسيه عواملي اندكه گريه چوف دربرابر مقاصد استعماري امريكا تحت نام نظام جديد جهاني مهرتائيدگذاشته وفقط با دريافت كومكهاي اقتصادي ازغرب ميخواهد نفسي براحت بكشد، همچنان طبيعي است كه عدم حمايت امريكا ازقيام استقلال طلبي مليت هاي محكوم روسي ، منازعه وكشمكش ايالات آزاديخواه را بادولت مركزي روس به درازامي كشدوطي آندت ماسكو مي تواند بااعمال فشارهاانگيزه هاي قيام هاي آزاديخواهي را منطقي سازد . چنانچه ازلحن بيانيه جورج بوش دركيف پايتخت اوكراين بخوبي برملابودكه بوش ازدهن كجي هاي چرب گريه چوف خورسندشده وجنبش آزاديخواهي ايالات روسيه را تائيد نميكند . امريكا وقتي ازحركت آزاديخواهي ايالات هاي روسي حمايت ميكرد كه كريلين باامريكا درعرصه جهان درحال مسابقه بود ، وقتيكه گريه چوف منحيث رهبر روسيه حاضربه تفاهم بابوش گرديد وبه برنامه هاي استعماري امريكا بعنوان يگانه قدرت جهان اعتراف نمود آنگاه طبيعيست كه بوش بجاي حمايت يك ايالت روسيه ، حمايت ازدولت مركزي روسيه راترجيح ميدهد . بنابرهمين انگيزه هاامكان دارد كه امريكا به اين زودي ها به بوريس يلتسن كه مواضع سياسي وفكري اش بيشتربه غرب نزديكتراست ، روي خوش نشان ندهد ودربدل اين كارشايد مهرتائيد گريه چوف براي گسترش نظام جديد جهاني ويكه تازي درجهان را بگيرد . همچنان ازامكان بعيد نيست كه روسها دربرابر دريافت كومكهاي بيشتراقتصادي وبرداشتن تمام موانع ازسرراه تجارت ميان دوكشورشايد به اين شرايط امريكا موافقه نمايدكه جزاير متنازع فيها ميان جاپان و روسيه به جاپان مستردگردد ونيز ماسكو ازتقويت نظامي واقتصادي كيوبا دست بردارشود . وهكذا اين امرنيز ازامكان بعيد نيست كه امريكا بادست برداشتن ازحمايت يلتسن ،اين امتيازرا براي روسهابدهد كه مجاهدين افغان ازحمايت امريكا كاملا محروم گردند ودرعوض روي تاسيس حكومتي كه نجيب وحزب كمونيست وي نيز عضويت آنرا داشته باشد، تاكيدنمايد .

دمجاهدينو دخښ کړ شويو مينونو په وسيله په بغلان كي ددښمن دوه زغروال ټانګونه ويجا ړشول

بغلان - دزمري ۹ :

دبغلان ولايت سرښندونكو مجاهدينو دميديا په حواله خبرواكړي چي نوموړو اتلو غازيانودروان كال دزمري دمياشتي په ۹ مه نيټه دخوخښ كړشويومينونو په وسيله ددښمنونوراوو دوه زغروال ټانكونه ويجاړاو ۱۱ كسه ملشيان ئي يكي ووژل . خبرځاي ليكي : پدي بريالي چاودنه كي دكابل رژيم يوصاحب منصب سره له ۵ كسه عسكرواويوه جيپ موټرمجاهدينو ته تسليم شوي اومجاهدينوته كوم ځاني يامالي تاوان ندي رسيدلي .

په يوګوسلاويا كي د اروپايي تولني دهيئت پروګرام ناكام شو

يوګوسلاويا دزمري ۱۴ :

په يوګوسلاوياكي داروپائي ټولني ديپلوماتان كوشش كوي چي دكروشياپه آزادي غوښتونكي جمهوريت كي داوربند دخارني لپاره دیوګوسلاويا دفدرالي حكومت نه منظوري واخلي دهالينده پرتګال اولوكزامبورك دبهرنيوچارو وزيرانو په بلګرادكي ديوګوسلاوياصدراعظم انتومارکوويك اونوروحكومتي مامورينوسره وكتل له غونډي نه مخكي دكروشيا جمهوريت داوربندپه باره كي دفدرالي حكومت نوي پيشنهاد منظوركړي دي چي په هغي كي ويل شوي دي چي دفدرالي حكومت اردواوسربيائي ملېشي په جنګ بندوي مګردكروشيا پارلمان پرون په يوه فيصله كي دهغه څرګ ټاكل ردكړل چي دبلګراد حكومت داوربند دخارني لپاره خوښ كړي دي اودهغه په ځاي ئي ددغه كارلپاره داروپائي ټولني دسوله ساتونكو ټاكل غوره ګڼلي دي . دبلګراد حكومت برانسكوكاستيك تومي يوسړي چي دسربيانو ملګري اودمونتي نيګرو اوسيدونكي دي داوربند دكميسيون مشرټاكلي دي له بلي خوادسربياجمهوررئيس سلوګودان ملوسوويك وائي چي هغه په كروشياكي داروپائي ټولني دسولي ساتونكي قوي ځاي په ځاي كول نه دي منلي اونه ئي مني .

له بلي خوادجرمني دبهرنيوچاروورزيرانو داروپايي ټولني دهيئات دناكاميدوله امله غوښتنه كړي چي ددي ټولني دبهرنيو چارو وزيرانو غونډه دي جوړه شي اوپه دي هكله دي لازم تصميمونه ونيسي .

يك كندك حفاظتي ميدان هوائي كندز با تمام پر سونل وامكانات نظامي خود به مجاهدين تسليم شد

كندز ۱۴ر۵ر. ۱۳۷ :

خبرگزاري ميديابه نقل قول ازيك منبع جهادي ازولايت كندز خبرميدهد كه : يك كندك ، فرقه مليشه سيدكيان به قوماندانى " غيور" كه وظيفه حفاظت ميدان هوائي را بعهده داشت باتمام پرسونل و ٥٤ ميل سلاح خفيف وثقيل بااستفاده از عفوعمومي بتاريخ ٦ سرطان به مجاهدين تسليم شدند .

درخبرگفته شده : كه به تاريخ مذكوريك پوسته مليشه كه در منطقه قهوه خانه واقع جنوب شهركندز موقعيت داشت باتمام پرسونل وسلاح دست داشته خودبه مجاهدين تسليم شدند .

طبق يك خبرديگر : مجاهدين بتاريخ ٦ سرطان طي عملياتيكه بالاي پوسته امنيتي ولسوالي چاردره كه درجنوب غرب شهر كندز موقعيت دارد انجام دادند ودرنتيجه يك پوسته فتح وده تن ازمليشه ها باسلاح دست داشته شان ويك ميل گرينوف ويك راكت به اسارت خودگرفتند .

درحاليكه جنگ دوام دارد ازتلفات دوجانب تذكري بعمل نيامده .

دهرات په ولايت كي ددښمن دوي پوځي لاري ويجاړي او دوه كسه افسران ژوندي ونيول شول

هرات - دزمري ۵ :

دهرات ولايت سرتيرو غازيانو په نوموړي ولايت كي خپل بريالي بريدونه پيل كړي اودښمنوقواووته يي دراندہ زيانونه وريه برخه كړي دي . په هغه ريوټ كي چي دنوموړي ولايت څخه ترلاسه شوي ويل كيږي : دروان كال دزمري دمياشتي په ۵ مه نيټه مجاهدينو ديوه بريالي بريدپه ترځ كي دړژيم دوي پوځي لاري ويجاړي كړي او ۱۵ كسه كمونستان يي وژلي دي .

په خبركي ويل شوي چي : مجاهدينو دهرات اوكندهار دلويي لاري په اوږدوكي دكابل رژيم يوزغروال ټانك ويجاړكړي او ۲ كسه صاحب منصبان چي دجګړني رتبي يي ترلاسه كړي وي ديوميل وسلي سره ژوندي نيولي .

پدي بريالو بريدونوكي مجاهدينوته كوم تاوان ندي رسيدلي اودولتي قواووموراال دبر تيټ شوي دي .

گزارشي از فعاليت هاي نظامي حوزه حضرت بلال (رض) در ولايت بلخ

بلخ ١٤ر٥ر. ١٣٧ :

مديريت ارتباط خارجه رياست نظامي حزب اسلامي افغانستان به نقل ازپيام مخابروي برادرمجاهد قوماندان جمعه خان مسئول عمومي حوزه حضرت بلال (رض) ولايت بلخ گزارش فعاليت هاي نظامي حوزه متذكره را به شرح ذيل ارسال نموده است .

١ - درعمليات تاريخي ٢٦جوزا مجاهدين آن حوزه شاهراه عمومي بلخ - جوزجان رادرمنطقه تيموري ولسوالي چاربولك مسدود نموده وكاروان حامل مهمات رژيم كه بصوب جوزجان درحركت بود مورد حمله قراردادند كه درنتيجه يك عراده تانك زرهي ودوعراده موترنظامي به آتش كشيده شد .

گزارش علاوه ميكند : دراين نبرد ٢٠ نفرازمليشه هاي رشيددوستم هلاك و پانزده نفرشان به اسارت مجاهدين درآمدند .

درخبرگفته شده كه : دراثراين عمليات كاروان متذكره متوقف گشت ومناطق مسكوني تحت تسلط مجاهدين را مورد حملات وحشيانه سلاحهاي ثقيل قراردادند كه به اثرآن تلفات مالي زيادي به اهالي منطقه وارد آمد .

٢ - درعمليات تاريخي ١٠ سرطان مجاهدين حوزه مذكور مجدداً شاهراه بلخ جوزجان رادرمنطقه گورتيپه ولسوالي چاربولك مسدود نموده وكاروان نظامي دشمن را تحت ضربات شديد خويش قراردادند كه درنتيجه تعداد زيادي ازپرسونل نظامي پياده رژيم كشته و ٣ تن ازافرادمسلح دشمن به اسارت مجاهدين درآمدند .

درخبرذكرشده كه : دراين عمليات ٢ ميل كلاشينكوف ويك ميل تفنگچه تي تي به غنيمت مجاهدين درآمد .

٣ - درعمليات تاريخي ١٣ر٤ر. ١٣٧ مجاهدين حوزه حضرت بلال (رض) شاهراه عمومي بلخ جوزجان را براي بارسوم درساحه علم خيل بروي قطارهاي اكمالاتي رژيم بستند وحملات موفقانه بر كاروانهاي حامل سلاح ومهمات دشمن انجام دادند كه درنتيجه چندين عراده موترنظامي دشمن طعمه حريق گرديد ويك عراده موترنظامي دشمن بطور فعال وسالم به غنيمت مجاهدين درآمد .

٤ - بتاريخ ١٦ر٤ر. ١٣٧ براي بارچهارم شاهراه مذكور بروي قطارهاي اكمالاتي رژيم درمنطقه گورتيپه ولسوالي چاربولك مسدود گرديد وكاروان نظامي رژيم كه بصوب ولايت جوزجان درحركت بود مورد حملات شديد مجاهدين قرارگرفت كه درنتيجه تعداد زيادي ازپرسونل پياده نظامي دشمن هلاك وزخمي شدند ويك عراده موتر جديد نظامي ازنوع كراز به غنيمت مجاهدين درآمد .

درخبرگفته شده : سلسله عمليات هاي چريكي بالاي كاروانهاي رژيم ملحدكه مهمات جنگي رابه ولايات جوزجان وفارياب انتقال ميدهند توسط مجاهدين دلير حزب اسلامي افغانستان تحت قوماندهي جمعه خان " همدرد" ادامه دارد ورژيم كابل بطور مسلسل مناطق مسكوني را كه تحت تسلط وكنترول مجاهدين است موردعمليات وحشيانه قرارداده كه دراثر آن خرمن هاي گندم مردم بي دفاع طعمه حريق وبه منازل نيزخسارات مالي ببارآورده است .

تبديلي نام

برادرقليچ ولد محمدداود مسكونه قريه ينگريخ ولايت جوزجان كه فعلا بحيث آشپزدردفترحزب اسلامي افغانستان مقيم كراچي ايفاي وظيفه مينمايد اسم خودرا به ذبيح الله تبديل نموده است .

موصوف ازتمام دوستان واقارب خويش متمني است تا وي را منبعد به اسم ذبيح الله بشناسند .

دپښخلس لكوافغانانوله قاتل نجيب سره دخبرواتروسوال نه پيداكيږي.
روس ته ماتي وركوونكي دخپل سرنوشت ټاكلو دپريكړي استعداد لري
مولوي نصرالله « منصور»

شهادت
بيانگرعقايدوآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان
موسس : انجنير حكمتيار
صاحب امتياز: حزب اسلامي افغانستان
ناشر : رياست ارشادوفرهنگ
سال تاسيس : ۱۳۵۷ هجري شمسي
تحت نظرهيئت تحرير
تلفون : ٦٢٧٨٩ - ٤٠٢٢٤ پشاور
پوست بكس (د١٤٦٥) يونيورسټي ټاون - پشاور

مقامات روسيه راه هاي تضمين مواد غذايي را بررسي كردند

مسكو ١٣ اسد :

گورباچوف رئيس جمهور شوروي ديروز باوزيران دولت ورهبران تمام جمهوري هاي شوروي به استثناي لتواني ملاقات كرد ودرين زمينه باآنهابه تبادل نظرپرداخت.گزارش هاي خبري حاكيست :كه علي الرغم مشكلات جدي زراعتي شرايط براي رساندن بي وقفه مواد غذائي به مردم مساعداست .

قراراست گورباچوف فرمان ويژه يي براي تقويت بخش زراعتي وبهبود سيستم بازار تقويت كند. درجلسه ديروز مسكوموافقت شدكه تاپايان سال آينده طرح يك توافق اقتصادي بين شوروي وجمهوري ها تهيه شود .

تايوان ته دالوتكو وركولوله امله چين پر امريكا انتقاد كړي دي

پيكنګ دزمري ۱۳ :

چين په امريكا باندي ددي له امله چي په تايوان باندي ئي لس نظامي هليكوپترونه خرڅ كړي انتقادكړي دي ، هغه بيانيه چي پرون خپره شوي په هغي كي دچين خارجه وزارت ويلي تايوان ته ددغوهليكوپترونووركول سيمه ايز ثبات په خطركي اچوي اوله چين سره دتايوان دتړاو يوځاي كولو په كاركي مشكلات راپيداكوي دباندنيوچاروزارت دغه بيانيه وائي چين هروخت په تايوان باندي دوسلو اونظامي تكنالوژي له خرڅلاوسره مخالفت كړي دي .

ده نفر در پنجاب كشته شد

پنجاب - ١٣ اسد :

درحوادث جداگانه درايالت پنجاب هند حداقل ده تندرو سك كشته شد بنابه گزارش هاي خبري تندروها درنبرد بين گروه جدايي خواه ديروز وامروزبهلاكت رسيدند دريك حادثه ديگرتندروها ديشب درلودياناپك مقام بانك ملي پنجاب راكشتند .

قراريك خبرديگر چريكهاي مائويست يك عراده جيب حامل هشت پوليس را بامابين درجنوب هند منفجركردند وآنهاراكشتند. گزارش هاي خبري هند حاكيست: كه چريكهامابين راديروز دركروشتالي زماني منفجركردند كه پاسبانان براي تحقيق درباره حادثه درايالت اترابرديش عازم آن منطقه بودند.راديوي دهلي نوميگويد : شش پوليس درمحل ازپادرآمدند ودونفرديگربه اثر جراحات وارده درگذشت .

سريلانكايي عسكرو دپيل غابني محاصره ماته كړه

سريلانكا دزمري ١٣ :

دسريلانكا اردووائي چي دفيل غابني كي داردوداستراتيژيك كمپ محاصره چي دادري هفتي تاميلبانوله خوالګول شويده ماته كړيده .

داردويوتطاق وائي عسكريرون پس له هغه دي كمپ ته ننوتل چي دياغيانومورچي اوشااوخواځايونه ئي وران كړل . دځو وروځو راهيسي اردو دياغيانوپه سنګرونو حملي كولي دفيل غابني دسريلانكا مركز كوليوشمال ختيځ ته دري سوه كيلومتره لرپر پروت دي ، دنجات په قوه كي تقريبا اته زره تنه عسكرو اوپه كمپ كي دګيرشوو عسكروشميراته سوه تنه وو، ددغه كمپ ددري هفتوپه محاصره كي ديوسل اوپنځوسونه زيات عسكراود.. ٥ تنو زيات تاميلي ياغيان وژل شوي دي . دتاميل ايلام دخپلواكي پړانګان دسريلانكا داقليت تاميلبانو لپاره په شمال ختيځ كي ديوبيل دولت دجوړيدو لپاره جنګيږي .

اعلان مفقودي

محمدابراهيم ولد محمداسمعيل مشهوربه شيرزاد مسكونه ولايت كابل (شهركابل) كه به اثرخلل دماغ از منطقه "بورد " پشاور مفقود گرديده است .

برادران مهاجرواتصار اگراز شخص مذكور اطلاعي داشته باشند به رياست ارشادوفرهنگ حزب اسلامي افغانستان وياتيلفونهاي (٥٥٩ ، ٨١ - اقبالبار) و (٦١٩٧٩ - معلم محمدين) اطلاع دهند

ايران داتومي بم دجوړولو تورونه رد كړل

تهران - دزمري ١٣ :

دايران داتومي انرژي دموسسي رئيس هغه ريوټونه ردكړي دي چي ګواكي دغه هيواددداتومي وسلوجوړولو توان لري ، دايران خبري آژانس درضاامرالهي له قوله ويلي، تهران دسوله ايزو مقصدوتولكه دداروددرملو جوړولو اوپه كرهني كي داتومي انرژي داستعمال سره علاقه مندي لري دايران دحكومت يوي مخالفي ولي مجاهدين خلق چي مركزئي په عراق كي دي ويلي ووچي ايران كوشش كوي اتومي بم جوړكړي . امرالهي همدغه راز په سترو ځواكونو تورلګولي چي ددريمي نړي هيوادونه نه پريږدي چي اتومي صنايع ولري هغوي دغه صنايع په خپله قبضه كي ساتلي دي .

####

مابه هيچكس اعم از دوست ودشمن حق نميدهيم كه سرنوشت ملت مارا تعيين كنند